مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شیر محمد اميني ستانکزی ۲۰۲۰/۰۳/۲۶

# افغانان ښکه کولای شي د سولې پروسې ته ورسيږي!؟

سولې ته هر انسان اړتيا لري، ځکه د سولې؛ پرته ژوند له ډول ـ ډول ننګونو سره مخ وي ، لکه زموږ هېواد، چې دا څلور لسيزې وشوې د جګړو په اور کې سوزي او افغانان تل د سولې راتلو نارې وهي، خو د سولې راتګ څرک هم نه لړيږي .

جګړه چې د سولې ضد کلمه ده، ډيرى خلک ورڅخه کرکه لري، ځکه جګړه هغه ناشوني پديده ده، چې له وژنو، ويجاړيو، کډواليو، بې کوره کېدو، بېوزلويو او ناچاريو پرته؛ هېواد له سترو اقتصادي، ټولنيز او سياسي بحران سره مخ کوي، چې بيا به کلونه کلونه په پښو ونشي دريدلاى .

افغانستان چې تېرو نولسو کلونو را په دېخوا ديوې نوې فصل پرانيسته وکړه، خو بيا هم افغانان په هغه کچه چې د ژوند اړتياوې پوره کړې واى، نه دې پوره کړي . په ياده يوې نيمې لسيزې نه زيات وخت په تېريدو که څه هم هېواد د پرمختګ په لوري يون ترسره کړې، ولې بيا هم خلک په کراره نه دي ناست او دتېر په څېر د وژنو، ويجاړيو او جګړو شاهدان دي .

دغه بدبختى چې په هېواد کې ترسرګو کيږي، ډيرى يې بهرني هېوادونه او استخباراتي کړۍ دي، چې دوى نه غواړي افغانستان دې په هر اړخيزو برخو کې په پښو ودريږي. دافغانانو ترمنځ يې نفاق اچولى يو بل ته يې هڅولي او د همدغو افغانانو په توسه هېواد کې د سترى غميزې اور بل کړى دى .

اوس افغانانو ته پکار ده، چې په خپلو منځونو کې سوله وکړي او د خلکو غوښتنو ته لبيک ووايي، څو په افغانستان کې ديو دايمن امنيت په ټينګښت وکړي وکولاى شي، چې د هېواد په دننه کې په کار بسيا او هېواد د پرمختګونو په لوري خوځښت پيدا کړي .

ځکه سوله ده، چې په يوه هيواد کې د پرمختګونو د ودې لمن رانغاړي، ولسونه يې په هوسا او آرام ډول او په يوه نېکمرغه ټولنه کې ژوند ته مخه کوي .

په دې ورستيو وختونو کې چې د سولې خبرې په درز رواني وي او په هېواد کې د اورکم يا د تاوتريخوالي لړۍ د دوارو په جګړو ښکيلو خواو نه شوې وه، د خلکو هيلې يې تر يو بريده وغوړولې، خو د خلکو هيلې بيرته يو څه ناهيليو ته ورسيدې، ځکه وسلوالو بيا ځلې د هېواد ګوټ ګوټ کې جګړو ته زور ورکړل .

بل لور ته زموږ سياسيون د قدرت په سر نانډرى وهي، چې واک دې د تير په شان په خپلو منځو کې وويشي، خو تجربو ثابته کړې، چې ملي يوالي حکومت ياني پنځوس سلنه ويش په حکومتي چارو کې کومه مثبته پايله نه دى ورکړې .

د سياسي کړکېچونو پرته د نړۍ په هېوادونو او همدارنګه افغانستان کې د کرونا ويروس خپريدل په خلکو کې زياتي اندېښنې راپارولي دي، يو لوري جګړه، بل لوري ته د حکومت خپلمنځي اختلافات او دربيم الهي آفت، چې د کرونا ويروس خپريدل دي. نو ښکه به بې وسه افغانان وکولاى شي، چې دغو دربيو ستونزو ته تاب راوړي ؟

د الهي نصرت په مرسته او د افغانانو ترمنځ يوالى کولاى شي، چې يادو ستونزې له منځه لاړې شي، طالبان او حکومت دې دواړه سره سلا او تلپاتى اوربند دې وکړي، چې افغانان د اقتصاد له پلوه غني او همدارنګه وکولاى شي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې د سیاسي کړکیچ په وتلو؛ د کرونا ویروس نه هم ځانونه په امن کې کړي، ځکه یوې ستونزې لپاره هرڅوک مقاومت کولای شي.

طالبانو او حکومت دواړو ته د ویلو ده، چې د سولې راوستو په لاره کې هر راز مرستو ته تیارسی واوسي او دغه نیک گام ورته اسلامي وجیبه بولو، چې دوی د یو سپوري لاندې سره را ټول او یوې خبرې ته په رسیدو، چې سوله ده ورسیږي، ځکه نور افغان ولس له جګړو، ورور وژنې ستړي شویدي؛ سوله، امن، ثبات او د یو ډاډمن افغانستان غوښتونکی دي .

نو ډیر ژر به هغه وخت راورسیږي، چې د هېواد څخه د ماتمونو ټغر ټول او پر ځای یې د یوالي، وروړګلوۍ او وحدت ټغر غوړیدلي وي .
ان شاء الله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ